د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د المان نوی پروګرام به په پاکستان کې د افغاني مهاجرو سره هیواد د راستنیدو په لاره کې مرسته وکړي

کابل، د ۲۰۱۵ کال د دسمبر ۱۲مه نیټه – نن افغانستان، د ملګرو ملتو د مهاجرو عالي کمیشنری(UNHCR) ، او المان پریوه نوي نوښت باندې موافقه وکړه چې په پاکستان کې میشته افغان مهاجرو سره به مرسته وکړي چې بیرته هیواد ته راشي. نوموړې کمیشنری به د دې پروژې مدیریت په غاړه ولري چې هم به په افغانستان کې او هم په پاکستان کې پرمخ بوول کیږي. د المان حکومت د دې پروګرام دپاره څه نا څه ۹۰۰ میلیونه افغانی برابروي چې د KfW د پراختیایي بانک له لارې تمویلیږي.

د افغان مهاجرو د پایښتونکي راستنیدل او ادغام د ټینګښت پروګرام (SRRAR) به په افغانستان او پاکستان کې فعالیت کوي. د دې پروګرام موخه داده چې هیواد ته د مهاجرو د بیرته راتګ په لاره کې ستونځې او ننګونې حل کړي.

په پاکستان کې نوموړی پروګرام به افغان مهاجرو ته د اړتیا وړ معلومات ورکړي چې هیواد ته د بیا ستنیدو په باب سمه پریکړه وکړي. که چیرې هغوی دا پریکړه وکړي، پروګرام به د هغوی سره د کار د مهارتونو د روزنې د چمتوکیدو او د بیرته راتګ د لوژستیکي ملاتړ له لارې مرسته وکړي. په افغانستان کې به د راستانه شویو افغان مهاجرو سره د اوسیدنې د نوي ځای او د پایښتونکي کار او بار د نویو امکاناتو د پیداکولو په ډګر کې مرسته وشي. نوموړی پروګرام به همدارنګه د هغو سیمو د بیخبنا په سمون کې مرسته وکړي کوم چې راستنیدونکي مهاجرمني.

د افغانستان د مالیې وزارت مرستیال ښاغلي محمد مصطفی مستور د دې پروګرام د تمویل موافقه لاسلیک کړه.

څرنګه چې په افغانستان د ملګرو ملتونو د مهاجرو د عالي کمیشنری استازې میرمن مایا امیراتونګا (Maya Ameratunga) توضیحات ورکړل، "هغه افغانان چې بیرته هیواد ته راستنیږي کله کله د یولړ ننګوونو لکه ابتدایي خدمتونو ته د لاسرسي، د کار د پیداکولو یا په خپلو سیمو کې د ادغامیدلو سره مخامخ کیږي. دغه د افغان مهاجرو د پایښتونکي راستنیدلو او ادغام د ټینګښت نوی پروګرام به نوموړي ستونځي حل کړي. مونږ کولای شو په ګډه توګه د خلکو سره مرسته وکړو چې په عزت سره خپل هیواد ته راستانه شي، په خپلو ټاټوبي کې پانګه اچونه وکړي او خپل ژوند د سره جوړ کړي".

دغه پروژه د افغان مهاجرو دپاره د حل د ستراتیژۍ (SSAR) سره تړلې ده. افغانستان، پاکستان او ایران د ملګرو ملتو د مهاجرو د عالي کمیشنری په همکاری په ۲۰۱۲ کال کې په نوموړې ستراتیژۍ باندې موافقه وکړه. ددې ستراتیژۍ موخه داده چې د افغان مهاجرو سره هیواد ته د بیرته راتګ په لاره کې پایښتونکي حل لارې راوپیژني او اداره یې کړي.

د KfW بانک د المان د حکومت په استازیتوب هغه پروژې تمویلوي چې د حکومت او نور ملګرو مراجعو له خوا په افغانستان کې په بیلابیلو ډګرونو لکه اوبه، انرژی، روغتیا، پوهنه، پایښتونکي اقتصادي پراختیا، کلتور او ښې حکومتداری په برخو کې پلي کیږي. په ۲۰۱۵ کال کې، د المان ژمنه د مالي مرستې په ډګر کې لږترلږه ۱۴ میلیارد و افغانیو (۱۹۰ میلیونو یورو) ته ورسیده.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de